د افغانستان اسلامي امارت

د کورنيو چارو وزارت

د نشه يي توکو پر وړاندې دمبارزې معينيت

ملکي معاونيت

د نشه يي توکو د سروې او تحليل ریاست

# په افغانستان کې د نشه يي توکو د بيو د څارنې مياشتنۍ راپور









**کال : 1403 (جون 2024)**

## د مطالبو لړليک صفحه


۱. مهمي موندنې.... ۳
۱/۱ د نشه يي توکو د بيو حال .... ۳
۲. پيلامه.... ٤
۳. ترياک .... ٥
۳/۱ وچ ترياک .... ٥
۳/۱/۱ د وچو ترياکو بيه د پټي په سر .... ٥
۳/۱/۲ د تجارانو تر منځ بيي .... ٦
۳/۲ وچ ترياک ( چاينکې کېفيت).... ۷
۱/۲/۳ د پټي د سر بيي .... ۷
۲/۲/۳ د تجارانو له خوا بيه .... ۷
۳/۳ تازه ترياک .... ۸
۴. هيروين .... ۹
۵. صنعتي نشه يي توکي.... ۱۰
۶. چرس .... ۱۳
۷. د چرسو او کوکنارو داني .... ۱۵
۸. د هيروينو، ترياکو او چرس بيي د مصرف کوونکو په سطح.... ۱۶
۹. د اسيتک انهايدرايد(تيزابونو) بيه .... ۱۶
۱۰. د اومان بيه .... ۱۷
۱۱. مشروع محصولات.... ۱۸
۱۲. د رواني مياشتي د نرخونو د لوړيدو او ټيټدو لاملونه.... ۱۹
۱۳. يادښتونه، ستونزي او وړانديزونه.... ۲۱
۱۴. ميتودلوژي/ کړنلاره.... ۲۲

## د جدولونو لړليک صفحه


١ جدول: د نشه يي توکو د بيو خلاصه ...... ٣
٢. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د يې اوسط د پټي په سر  په ډالرو (٢٠٢۴ مې  تر ٢٠٢۴ جون) ...... ۵
٣. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو له مې تر جون ٢٠٢۴ کال ...... ٦
۴. جدول: د يو کيلو وچو چاينکې ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر په امريکايي ډالرو ...... ٧
۵.جدول: يو کيلو ګرام وچ چاينکې ترياکو د بيو اوسط د تجار په سطح په امريکايي ډالرو ...... ٧
۶. جدول: د وچ ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو پولي واحدونو ...... ٧
٧ جدول: د تازه ترياکو سيميز نرخ د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو محلي پيسو ...... ٨
٨ جدول: د يو کيلو ګرام مختلف ډوله هيروينو نرخ  په ډالرو په افغانستان کې (د ٢٠٢٣ جون  تر٢٠٢۴ جون) ...... ٩
٩جدول: د يو کيلو ګرام مختلف ډوله هيروينو نرخ  په نورو سيميزو پيسو ...... ١٠
١٠ جدول: ديوه واحد صنعتي نشه يي توکو بيه په ډالرو ...... ١١
١١ جدول: د يو کيلو ګرام بنګو بيې په افغانستان کې په ډالرو  د ٢٠٢۴ کال د جون مياشتې ...... ١٣
١٢ جدول: په هيواد کې د يو کيلو ګرام بيلابيلو ډولونو چرس بيې په سيميزو پولي واحدنو (مې – جون ٢٠٢۴) ...... ١٤
١٣ جدول: د چرسو او کوکنارو د دانو بيې په سيميز د پيسو په واحدنو ( مې - جون) کال ٢٠٢۴ ...... ١٥
١۴ جدول: د يو کيلو ګرام چرسو او کوکنارو دانو بيه په ډالرو ( جون ٢٠٢٣ تر جون ٢٠٢۴) ...... ١٥
١۵ جدول: د هيروينو، ترياکو او چرسو د بيو اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو ٢٠٢۴ کال  جون ...... ١٦
١۶ جدول: په افغانستان کې د يو ليټر استيک انهايداريد بيه په ډالرو ٢٠٢٣ تر ٢٠٢۴ جون مياشتو تر منځ ...... ١٦
١٧ جدول: په افغانستان کې د اومان د يوکيلو ګرام اوسط بيه په امريکايي ډالرو د ٢٠٢۴ مې څخه تر ٢٠٢۴ جون پورې ...... ١٧
١٨ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنۍ وريجې، وطنې وريجې بيې په افغانستان کې په محلي پيسو ٢٠٢۴ کال جون مياشت ...... ١٨
١٩ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنۍ وريجې، وطنې وريجې د بيو اوسط په افغانستان کې په ډالرو٢٠٢۴ کال جون مياشت ...... ١٨
٢٠ جدول: د وچ او تازه ترياکو د بيو اخيستلو څخه ليدنې شمير ...... ٢٢


## د شکلونو لړليک صفحه


١. شکل: د وچو ترياکو د بيو اوسط د سيمې په سطح د پټي په سر د ( جون  ٢٠٠۴ -٢٠٢۴  جون ) کلونو تر منځ ...... ۵
٢.شکل: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو (٢٠٢٣ تر٢٠٢۴) جون مياشت پورې ...... ٦
٣ شکل: د يو کيلو تازه ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په ډالرو (جون ٢٠٠۵ تر  جون ٢٠٢۴) ...... ٨
۴ شکل: د ډول ډول صنعتي نشه يي توکو بيې په ډالرو ٢٠٢۴ کال جون مياشت ...... ١٢
۵ شکل: د يو کيلو ګرام (ګرده-١ عالي) بنګو بيه  په ډالرو د (٢٠٢٣ جون – ٢٠٢۴ جون) کلونو تر منځ ...... ١٣
۶ شکل: په هيواد کې  د يو کيلو ګرام بيلا بيلو ډولونو بنګو بيې په ډالرو د جون مياشت ٢٠٢۴ کال ...... ١۴
٧. شکل: د هيروينو، ترياکو او بنګو د بيو سيميز اوسط د مصرف کوونکو  په سطح په ډالرو ٢٠٢۴ کال جون ...... ١٦

# ۱. مهمي موندنې

## ۱/۱ د نشه يي توکو د بيو حال

### ۱ جدول: د نشه يي توکو د بيو خلاصه

| د نشه يي توکو ډولونه | میاشتني | | | کلني | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | می 2024 | جون 2024 | توپیر په فیصدی | جون 2023 | جون 2024 | توپیر په سلنه |
| د یو کیلوګرام وچ تریاکو بیه د پټی په سر په امریاکائی ډالرو | 865 | 860 | -1% | 312 | 860 | +176% |
| د یو کیلوګرام وچ تریاکو بیه د تجارانو له خوا په امریاکائی ډالرو | 875 | 868 | -1% | 320 | 868 | +171% |
| د یو کیلوګرام تازه تریاکو بیه د پټی په سر په امریاکائی ډالرو | 575 | 552 | -4% | 205 | 552 | +169% |
| د یو کیلوګرام تازه تریاکو بیه د تجارانو له خوا په امریاکائی ډالرو | 597 | 564 | -6% | 211 | 564 | +167% |
| د یو کیلو ګرام بټن (100 ٪) هیروییینو بیه په امریکائی ډالرو | 11921 | 11126 | -7% | - | - | - |
| د یو کیلوګرام کرستال (60 ٪) هیروییینو بیه په امریکائی ډالرو | 7745 | 7630 | -1% | 3552 | 7630 | +115% |
| د یو کیلوګرام کرستال (40 ٪) هیروییینو بیه په امریکائی ډالرو | 6009 | 6083 | +1% | 2783 | 6083 | +119% |
| د یو کیلوګرام مورفینو بیه په امریکائی ډالرو | 5229 | 5135 | -2% | 3153 | 5135 | +63% |
| د یو کیلوګرام بنګو (ګرده-1) بیه په امریکائی ډالرو | 199 | 192 | -4% | 107 | 192 | +80% |
| د یو کیلوګرام بنګو (ګرده-2) بیه په امریکائی ډالرو | 141 | 131 | -8% | 79 | 131 | +65% |
| د یو کیلوګرام بنګو (ګرده-3) بیه په امریکائی ډالرو | 128 | 119 | -7% | 59 | 119 | +104% |
| د یو کیلوګرام شیشه (بهرنی) بیه په امریکائی ډالرو | 2.18 | 2.16 | -1% | 0.96 | 2.16 | +125% |
| د یو کیلوګرام شیشه (وطنی) بیه په امریکائی ډالرو | 1.33 | 1.32 | -1% | 1.52 | 1.32 | -13% |
| د یو امپول سوسیګان (بهرنی) بیه په امریکائی ډالرو | 1.34 | 1.14 | -15% | 1.097 | 1.14 | +4% |
| د یو امپول سوسیګان (وطنی) بیه په امریکائی ډالرو | 0.82 | 0.79 | -4% | 0.54 | 0.79 | +45% |
| د یو دانه تاجیکي تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 14.0 | 14.7 | +5% | 14.6 | 14.7 | +0.3% |
| د یو دانه ایراني تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 8.1 | 7.4 | -9% | 7.1 | 7.4 | +4% |
| د یو دانه پاکستاني تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 6.2 | 6.0 | -3% | 6.6 | 6.0 | -9% |
| د یو دانه وطنی تابلیت کا بیه په امریکائی ډالرو | 3.32 | 3.13 | -6% | 3.18 | 3.13 | -2% |

## ۲. سرلیک

د نشه يي توکو د بيو څخه څارنه په افغانستان کې اسلامي امارت د کورنيو چارو وزارت او د نشه يي توکو سره د مبارزې معينيت له خوا تر سره کېږي.

د نشه يي توکو د بيو راټولول او څارنه له ۱۳۷۳هجري کال راپديخوا په خو ټاکل شويو ولايتونو کې ترسره کېږي.

له (۲۵) ولايتونو څخه د ترياکو د بيو راټولول په جون مياشت (۲۰۲۴) کال کې د نشه يي توکو د دقيقو بيو په اړه مالومات ښيي.

د نشه يي توکو د بيو راپورونه چې د سروې او تحليل رياست په کلنيو راپورنو کې نشر کېږي مور ته د افغانستان د ترياکو اقتصاد په اړه مالومات راکوي اوهمدارنگه د نظارت پروسه ډيرد مشروع محصولاتو او کېمياوي توکو (پريکرسر) باندي څرخي او په اوسنيو د بيو په راپورونو کې د ترکېبي او صنعتي نشه يي توکو بيي هم شامل شوي دي.

همدارنگه د نويو څېړنو په ترڅ کې د ترکېبي ( صنعتی) نشه يي توکو لکه خارجی شيشه، وطنی شيشه، خارجی سوسيگان، وطنی سوسيگان، تابليت کا چي (ايرانی، تاجيکي، پاکستانی او وطنی) او د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر مياشت څخه د اومان (ايفيډرا) بوټی بيه، چې د شيشې په توليد کې کارول کېږی هم پدي راپور کې شامل شوي دي.


## ۳. ترياک

### ۳/۱ وچ ترياک

#### ۳,۱,۱ د وچو ترياکو بيه د پټي په سر

په افغانستان کې د وچو ترياکو بيه د پټي په سر د ۲۰۲۴ کال د جون تر پای ۸۶۰ امريکايي ډالر محاسبه شوي دي.
مې مياشت کې يو کيلو وچ ترياک په ۸۶۵ ډالره وه چې د تيري مياشتي په پرتله يي ۱٪ کموالی پکې راغلي دي.
همدارنګه د وچو ترياکو د بيي اوسط د ۲۰۲۴ کال جون مياشت کې او ۲۰۲۳ کال جون مياشتي په پرتله چې ۳۱۲ ډالره وه، ۱۷۶٪ ډيروالې پکې راغلي دي.

**۱. شکل: د وچو ترياکو د بيو اوسط د سيمی په سطح د پټي په سر د ( جون ۲۰۰۴ -۲۰۲۴ جون ) کلونو تر منځ**




**۲. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د بيي اوسط د پټي په سر په ډالرو (۲۰۲۴ مې تر ۲۰۲۴ جون)**


| سيمه | د يو کيلو وچو ترياکو بيه په امريکائی ډالرو | | د بيو توپير په (%) |
|---|---|---|---|
| | مې 2024 | جون 2024 | |
| ختيځ زون ( ننګرهار، لغمان او کنړ) | 1209 | 1219 | +1% |
| سويل زون ( هلمند،کندهار، زابل، ارزګان او دايکندی) | 677 | 684 | +1% |
| لويديځ زون ( بادغيس،هرات، غور، فراه او نيمروز) | 979 | 979.5 | +0.001% |
| شمال لويديځ زون ( بدخشان، تخار اوکندز) | 755 | 732 | -3% |
| شمال زون ( بغلان، بلخ، فارياب، سرپل، جوزجان اوسمنګان) | 626 | 607 | -3% |
| زون مرکز ( کابل، غزنی او کاپيسا) | 978 | 985 | +1% |
| **اوسط** | **865** | **860** | **-1%** |

### ۳,۱,۲ د تجارانو تر منځ يي

د تجارانو له خوا د وچ ترياکو د بيو اوسط د ۲۰۲۴ کال جون کې يو کيلو په ۸۶۸ امريکايي ډالره وه، د تيري مياشتي په پرتله چې يو کيلو ترياک په ۸۷۵ ډالره وه ۱٪ کموالی شيي.
همدارنګه د وچو ترياکو بيي د تجارانو له خوا د تيرکال يعنې جون مياشت ۲۰۲۳ کې يو کيلو په ۳۲۰ امريکايي ډالره وه چې سږ کال ته ۱۷۱٪ ډيروالي شيي.

د وچو ترياکو بيه د تجارانو له خوا ۱٪ په ختيځ زون، ۱٪ په سويل زون او ۰,۴٪ په لويديځ زون کې ډيروالی او اما ۴٪ په شمال لويديځ زون او ۳٪ په شمال زون کې کموالی راغلی دی.

**۲.شکل: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو (۲۰۲۳ تر۲۰۲۴) جون مياشت پورې**




**۳. جدول: د يو کيلو وچ ترياکو د بيو اوسط د تجارانو له خوا په ډالرو له مي تر جون ۲۰۲۴ کال**

| سيمه | د يو کيلو وچو ترياکو بيه په امريکائی ډالرو | | د بيو توپير په (%) |
|---|---|---|---|
| | مى 2024 | جون 2024 | |
| ختيځ زون ( ننګرهار، لغمان او کنړ) | 1212 | 1222 | +1% |
| سويل زون ( هلمند،کندهار، زابل، ارزګان او دايکندی) | 681 | 688 | +1% |
| لويديځ زون ( بادغيس،هرات، غور، فراه او نيمروز) | 1001 | 1004 | +0.4% |
| شمال لويديځ زون ( بدخشان، تخار اوکندز) | 778 | 745 | -4% |
| شمال زون ( بغلان، بلخ، فارياب، سرپل، جوزجان اوسمنګان) | 633 | 613 | -3% |
| زون مرکز ( کابل، غزنی او کاپيسا) | - | - | - |
| **اوسط** | **875** | **868** | **-1%** |

## ۳/۲ وچ ترياک ( چاينکې کېفيت)

### ۱,۲,۳ د پټي د سر بيې

د کېفيت له نظره د وچو ترياکو په بيو کې بدلون په بيلا بيلو سيمو کې  نه دي راغلې، په هلمند او بلخ ولايتونو کې د چاينکې په نوم د وچو ترياکو يو بل ډول چې په آزاده هوا کې له لند بل (رطوبت) څخه لرې وي د پټي په سر او د تجارانو له خوا پيدا کېږي، چې قيمت يې يو کيلو ګرام په ۲۰۲۴ کال جون مياشت کې په بلخ ولايت کې ۸۸۲ ډالره وه چې د مې مياشت په پرتله چې ۸۷۸ ډالره وه ۰,۴٪ ډيروالی پکې راغلې دي. همدارنګه د يو کيلو چاينکې وچو ترياکو بيه په جون مياشت کې په هلمند ولايت کې ۹۳۱ ډالره  وه چې د تيرې مياشتې په پرتله چې يوه کيلو ګرام په ۹۰۸ ډالره وه  ۲٪  ډيروالی ښيي.

### ۴. جدول: د يو کيلو وچو چاينکې ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر په امريکايي ډالرو

| وچ ترياک (چاينکی) | بلخ | | د بيو د سلنی توپير (می - جون) | هلمند | | د بيو د سلنی توپير (می - جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | می 2024 | جون 2024 | | می 2024 | جون 2024 | |
| د يو کيلو ګرام د پټي په سر په امريکائی ډالرو | 878 | 882 | +0.4% | 908 | 931 | +2% |

### ۲,۲,۳ د تجارانو له خوا بيه

په بلخ ولايت کې د وچو ترياکو چاينکې کېفيت يو کيلو ګرام په ۲۰۲۴ کال جون مياشت کې ۸۸۶ ډالرو ته رسيدلې وه چې د مې مياشت په پرتله چې ۸۸۵ ډالره  وه ۰,۱٪  ډيروالی پکې راغلې ده. همدارنګه په هلمند ولايت کې يو کيلو ګرام وچ ترياک چاينکې کېفيت په جون مياشت کې ۹۳۸ ډالرو وه چې د مې مياشت په پرتله چې يوه کيلوګرام په ۹۱۲ ډالره وه  ۳٪  ډيروالی ښيي.

### ۵.جدول: يو کيلو ګرام وچ چاينکې ترياکو د بيو اوسط د تجار په سطح په امريکايي ډالرو

| وچ ترياک (چاينکی) | بلخ | | د بيو د سلنی توپير (می - جون) | هلمند | | د بيو د سلنی توپير (می - جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | می 2024 | جون 2024 | | می 2024 | جون 2024 | |
| د يو کيلو ګرام د تجاربه سطح په امريکائی ډالرو | 885 | 886 | +0.1% | 912 | 938 | +3% |

### ۶. جدول: د وچ ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو پولي واحدونو


| سيمه | د محلی پيسو واحد | د يو کيلوګرام وچ ترياکو بيه په محلی پيسو | | | | د پيسو تغير په فيصدی د پټی په سر (می - جون) % | د پيسو تغير په فيصدی د تجارانو له خوا (می - جون) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | می 2024 | | جون 2024 | | | |
| | | د پټی په سر | د تجار په سر | د پټی په سر | د تجار په سر | | |
| ختيځ زون (ننګرهار، لغمان او کنر) | پاکستانی روپی | 335,851 | 336,610 | 338,580 | 339,357 | +1% | +1% |
| سويل زون (هلمند، کندهار، ارزګان، زابل او دايکندی) | پاکستانی روپی | 188,315 | 189,427 | 190,179 | 191,290 | +1% | +1% |
| لويديځ زون (هرات، بادغيس او غور)* | افغانی | 58,056 | 59,856 | 57,667 | 59,683 | -1% | -0.3% |
| لويديځ زون ( فراه او نيمروز)* | ايرانی تومان | 49,738,698 | 50,393,867 | 49,640,809 | 50,483,442 | -0.2% | +0.2% |
| شمال لويديځ زون (بدخشان، کندوز او تخار) | افغانی | 53,215 | 54,788 | 51,305 | 52,203 | -4% | -5% |
| شمال زون (بغلان، بلخ، فارياب، سرپل، جوزجان اوسمنګان) | افغانی | 44,261 | 44,735 | 42,406 | 42,858 | -4% | -4% |
| مرکز زون ( کابل، غزنی او کاپيسا) | افغانی | 68,900 | - | 68,667 | - | -0.3% | - |

لوديځ زون په دو واحدنو ويشل شوی ځکه د لوديځ زون څخه يي د پيسو په دو واحدنو راځي.

## ۳/۳ تازه ترياک

د ۲۰۲۴ کال د جون میاشت په ورستيو کې د تازه ترياکو محلی بيو کې ۴٪ کموالی راغلي دي چې په جون میاشت کې يوه کيلوګرام تازه ترياک ۵۵۲ ډالر وه او په می میاشت کې ۵۷۵ ډالره د پټي په سر وه.
د تجارانو له خوا د تازه ترياکو په بيو کې هم ۶ ٪ کموالی راغلي دي چې په می مياشت کې يوه کيلوګرام تازه ترياک په ۵۹۷ ډالره او په جون مياشت کې ۵۶۴ ډالره وه.

**۳ شکل: د يو کيلو تازه ترياکو د بيو اوسط د پټي په سر او د تجارانو له خوا په ډالرو (جون ۲۰۰۵ تر جون ۲۰۲۴)**




**۷ جدول: د تازه ترياکو سيميز نرخ د پټي په سر او د تجارانو له خوا په نورو محلي پيسو**

| سيمه | د محلی پيسو واحد | د يو کيلوګرام تازه ترياکو بيه په محلی پيسو | | | | د پيسو تغير په فيصدی د پټی په سر (می - جون) % | د پيسو تغير په فيصدی د تجارانو له خوا (می - جون) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | می 2024 | | جون 2024 | | | |
| | | د پټی په سر | د تجار په سر | د پټی په سر | د تجار په سر | | |
| ختيځ زون (ننګرهار، لغمان او کنړ) | پاکستانی روپۍ | - | - | - | - | - | - |
| سويل زون (هلمند، کندهار، ارزګان او زابل) | پاکستانی روپۍ | 123,069 | 125,591 | 125,279 | 128,638 | +2% | +2% |
| لويديځ زون (هرات، بادغيس او غور)* | افغانی | 45,805 | 49,113 | 44,884 | 48,237 | -2.0% | -1.8% |
| لويديځ زون ( فراه او نيمروز)* | ايرانی تومان | 33,709,773 | 34,452,714 | 32,108,244 | 32,671,647 | -5% | -5% |
| شمال لويديځ زون (بدخشان، کندوز او تخار) | افغانی | 39,650 | 41,892 | 37,522 | 39,718 | -5% | -5% |
| شمال زون (بغلان، بلخ، فارياب، سرپل، جوزجان او سمنګان) | افغانی | 36,631 | 37,094 | 36,932 | 37,345 | +1% | +1% |
| مرکز زون ( کابل، غزنی او کاپيسا) | افغانی | 67,750 | - | 67,500 | - | - | - |

*لويديځ زون په دو واحدنو ويشل شوی ځکه د لويديځ زون ځخه يي د پيسو په دو واحدنو راځي.

## ۴. هیروئين

په افغانستان کې ډول ډول کېفيت لرونکې هيروئين پيدا کېږي چې سپين پوډر (بټن) په ننګرهار کې، سپين پوډر (بټن) لوړ کېفيت په کندهار او هلمند کې، سپين پوډر (بټن) لوړ او سپين پوډر (بټن) ټيټ کېفيت په بلخ او فارياب ولايتونو کې، سپين پوډر (بټن) ۱۰۰٪ او سپين پودر (کرستال ۶۰ ٪) په بدخشان، تخار او کندز ولايتونو کې پيدا کېږي.
همدارنګه په هرات، فراه، نيمروز او بادغيس ولايتونوکې هم د افغانستان د لوړ بيې لرونکې هيروئين موندل کېږي. او ارزانترين هيروئين چې يو کيلو ګرام په ۳۴۲ ډالر دې په ننګرهار ولايت کې موندل کېږي چې د (خطه-۲ ) په نامه ده.

**يادونه:** دا څو مياشتې کېږي چې په شمال ختيځ زون کې ، سپين پوډر (بټن) ۱۰۰٪ ندي موندل شوي، نو په لاندې جدول کې يې ځاى خالي دي.

### ۸ جدول: د يو کيلو ګرام مخلتف ډوله هيروييڼو نرخ په ډالرو په افغانستان کې (د ۲۰۲۳ جون تر۲۰۲۴ جون)

| ولایت | د هیروئینو ډولونه | جون_23 | جولای_23 | اگست_23 | سپتمبر_23 | اکتوبر_23 | نومبر_23 | دسمبر_23 | جنوری_24 | فبروری_24 | اپریل_24 | می_24 | جون_24 | د قیمت بدلون (می-جون) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بدخشان | بټن (100) | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | 11,708 | 11,554 | -1% |
| بدخشان | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 4,043 | 4,079 | 4,201 | 4,823 | 4,547 | 4,932 | 9,634 | 10,313 | 9,538 | 11,122 | 10,697 | 10,020 | -6% |
| تخار | بټن (100) | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | 12,134 | 10,698 | -12% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 4,245 | 4,278 | 4,294 | 4,873 | 4,749 | 5,036 | 10,141 | 11,787 | 10,040 | 10,100 | 10,644 | 9,699 | -9% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 2,021 | 2,089 | 2,173 | 2,386 | 2,223 | 2,365 | 7,876 | 8,735 | 8,032 | 8,082 | 8,834 | 8,701 | -2% |
| کندز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 4,346 | 4,378 | 4,481 | 5,178 | 4,901 | 5,242 | 11,140 | 12,734 | 10,542 | 9,823 | 10,332 | 9,628 | -7% |
| ننگرهار | سپین پودر (بټن) | 1,139 | 1,147 | 1,109 | 1,148 | 1,218 | 1,467 | 5,653 | 6,334 | 6,387 | 8,574 | 8,569 | 8,632 | +1% |
| ننگرهار | بهترین پودر | 569 | 575 | 558 | 577 | 620 | 771 | 5,236 | 5,473 | 5,518 | 7,409 | 7,410 | 7,469 | +1% |
| ننگرهار | چره # 1 | 75 | 77 | 75 | 80 | 88 | 148 | 838 | 1,242 | 1,270 | 1,435 | 1,447 | 1,451 | +0.3% |
| ننگرهار | چره # 2 | 62 | 63 | 61 | 64 | 74 | 103 | 642 | 700 | 583 | 681 | 702 | 745 | +6% |
| ننگرهار | خطه # 1 | 54 | 55 | 53 | 56 | 63 | 95 | 178 | 287 | 322 | 386 | 403 | 439 | +9% |
| ننگرهار | خطه # 2 | 41 | 43 | 42 | 44 | 49 | 81 | 143 | 201 | 233 | 281 | 306 | 342 | +12% |
| فاریاب | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت - 60% | 3,844 | 2,664 | 4,018 | 4,327 | 4,653 | 5,715 | 5,740 | 5,571 | 5,816 | 6,761 | 7,215 | 6,016 | -17% |
| فاریاب | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت -40% | 2,957 | 2,959 | 3,092 | 3,349 | 3,682 | 4,103 | 4,121 | 4,248 | 4,431 | 5,071 | 5,388 | 5,300 | -2% |
| بلخ | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت - 60% | 3,643 | 3,650 | 3,847 | 4,147 | 4,519 | 5,423 | 5,593 | 5,555 | 5,962 | 6,604 | 6,770 | 6,880 | +2% |
| بلخ | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت -40% | 2,543 | 2,543 | 2,654 | 2,962 | 3,305 | 3,884 | 4,097 | 4,097 | 4,506 | 5,340 | 5,642 | 5,447 | -3% |
| بلخ | بهترین پودر - 20% | 1,230 | 1,236 | 1,339 | 1,597 | 1,780 | 2,081 | 2,179 | 2,222 | 2,496 | 2,810 | 3,103 | 2,867 | -8% |
| هلمند | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت | 2,792 | 2,798 | 3,685 | 3,929 | 4,226 | 7,247 | 6,638 | 5,949 | 5,957 | 5,942 | 5,576 | 5,751 | +3% |
| هلمند | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت | 2,653 | 2,728 | 3,350 | 3,758 | 4,081 | 7,000 | 6,424 | 5,734 | 5,742 | 5,762 | 5,396 | 5,535 | +3% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 4,293 | 4,547 | 6,700 | 6,970 | 7,440 | 10,905 | 10,456 | 8,709 | 8,721 | 8,102 | 7,374 | 8,267 | +12% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 4,119 | 4,268 | 6,097 | 6,355 | 6,790 | 10,535 | 10,242 | 8,852 | 8,864 | 8,282 | 7,554 | 7,979 | +6% |
| هلمند | مورفین | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| کندهار | سپین پودر (بټن) لوړ کیفیت | 2,758 | 2,763 | 3,618 | 3,758 | 4,081 | 7,282 | 6,638 | 5,949 | 5,957 | 5,942 | 5,576 | 5,751 | +3% |
| کندهار | سپین پودر (بټن) ټیټ کیفیت | 2,618 | 2,624 | 3,250 | 3,553 | 3,828 | 7,035 | 6,424 | 5,734 | 5,742 | 5,762 | 5,396 | 5,535 | +3% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 4,258 | 4,477 | 6,700 | 6,901 | 7,368 | 10,905 | 10,349 | 8,601 | 8,613 | 8,354 | 7,374 | 8,267 | +12% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 4,049 | 4,198 | 6,030 | 6,491 | 6,934 | 10,570 | 10,099 | 8,709 | 8,721 | 8,210 | 7,554 | 7,979 | +6% |
| کندهار | مورفین | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| بادغیس | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 2,010 | 2,060 | 2,191 | 2,252 | 2,422 | 2,640 | 2,752 | 3,438 | 3,988 | 4,005 | 3,957 | 4,065 | +3% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 3,055 | 2,985 | 3,104 | 3,710 | 4,845 | 4,841 | 6,954 | 6,876 | 6,896 | 7,237 | 7,279 | 7,132 | -2% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 2,468 | 2,341 | 2,678 | 3,020 | 3,668 | 5,134 | 6,084 | 6,034 | 6,038 | 6,324 | 5,371 | 5,206 | -3% |
| هرات | بهترین پودر | 3,290 | 3,277 | 3,469 | 3,840 | 4,429 | 5,354 | 7,968 | 7,858 | 7,963 | 7,940 | - | - | - |
| هرات | مورفین | 3,114 | 3,043 | 3,165 | 3,384 | 3,599 | 3,814 | 5,940 | 5,823 | - | - | - | - | - |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 2,938 | 2,985 | 3,408 | 3,775 | 4,637 | 5,721 | 7,823 | 7,717 | 6,924 | 7,870 | 7,067 | 6,989 | -1% |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 3,173 | 3,195 | 3,651 | 3,983 | 5,122 | 6,161 | 8,692 | 9,121 | 8,690 | 6,464 | 5,936 | 5,848 | -1% |
| فراه | مورفین | 2,350 | 2,376 | 3,104 | 3,319 | 4,429 | 5,427 | 6,084 | 7,016 | 6,301 | 6,324 | 5,229 | 5,135 | -2% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | 2,409 | 2,751 | 2,775 | 3,020 | 3,211 | 3,814 | 4,418 | 4,420 | 4,099 | 5,354 | 7,040 | 7,162 | +2% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 40% | 1,998 | 2,282 | 2,215 | 2,689 | 2,860 | 3,227 | 3,549 | 3,508 | 3,462 | 4,521 | 5,073 | 5,321 | +5% |
| نیمروز | بهترین پودر | 3,643 | 3,804 | 3,773 | 3,840 | 4,083 | 5,134 | 5,795 | 6,314 | 6,190 | - | - | - | - |
| نیمروز | مورفین | 3,996 | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |

## ۹جدول: د یو کیلو ګرام مخلتف ډوله هیروینو نرخ  په نورو سیمیزو پیسو

| ولایت | د هیروئینو ډولونه | سیمیز پیسو واحد | د یو کیلوګرام بیلابیل ډول هیروینو بیه په محلی پیسو واحدنو | | په % بدلون |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | می 2024 | جون 2024 | |
| بدخشان | بتن (100) | افغانی | 825,000 | 810,000 | -2% |
| بدخشان | سپین پودر( کرستال) - 60% | افغانی | 753,750 | 702,500 | -7% |
| تخار | بتن (100) | افغانی | 855,000 | 750,000 | -12% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 750,000 | 680,000 | -9% |
| تخار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 622,500 | 610,000 | -2% |
| کندز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 728,000 | 675,000 | -7% |
| ننګرهار | سپین پودر (بتن) | روپه پاکستانی | 2,380,000 | 2,398,000 | +0.8% |
| ننګرهار | بهترین پودر | روپه پاکستانی | 2,058,000 | 2,075,000 | +1% |
| ننګرهار | چره # 1 | روپه پاکستانی | 402,000 | 403,200 | +0.3% |
| ننګرهار | چره # 2 | روپه پاکستانی | 195,000 | 207,000 | +6% |
| ننګرهار | خطه # 1 | روپه پاکستانی | 112,000 | 122,000 | +9% |
| ننګرهار | خطه # 2 | روپه پاکستانی | 85,000 | 95,000 | +12% |
| فاریاب | سپین پودر (بتن) لوړ کیفیت - 60% | افغانی | 508,842 | 420,000 | -17% |
| فاریاب | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت -40% | افغانی | 380,000 | 370,000 | -3% |
| بلخ | سپین پودر (بتن) لوړ کیفیت - 60% | افغانی | 480,000 | 480,000 | 0% |
| بلخ | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت -40% | افغانی | 400,000 | 380,000 | -5% |
| بلخ | بهترین پودر - 20% | افغانی | 220,000 | 200,000 | -9% |
| هلمند | سپین پودر (بتن) لوړ کیفیت | دپاکستانی روپه | 1,550,000 | 1,600,000 | +3% |
| هلمند | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت | دپاکستانی روپه | 1,500,000 | 1,540,000 | +3% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 60% | دپاکستانی روپه | 2,050,000 | 2,300,000 | +12% |
| هلمند | سپین پودر ( کرستال) - 40% | دپاکستانی روپه | 2,100,000 | 2,220,000 | +6% |
| هلمند | مورفین | دپاکستانی روپه | - | - | - |
| کندهار | سپین پودر (بتن) لوړ کیفیت | دپاکستانی روپه | 1,550,000 | 1,600,000 | +3% |
| کندهار | سپین پودر (بتن) ټیټ کیفیت | دپاکستانی روپه | 1,500,000 | 1,540,000 | +3% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 60% | دپاکستانی روپه | 2,050,000 | 2,300,000 | +12% |
| کندهار | سپین پودر ( کرستال) - 40% | دپاکستانی روپه | 2,100,000 | 2,220,000 | +6% |
| کندهار | مورفین | دپاکستانی روپه | - | - | - |
| بادغیس | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 280,000 | 285,000 | +2% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 515,000 | 500,000 | -3% |
| هرات | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 380,000 | 365,000 | -4% |
| هرات | بهترین پودر | افغانی | - | - | - |
| هرات | مورفین | افغانی | - | - | - |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 500,000 | 490,000 | -2% |
| فراه | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 420,000 | 410,000 | -2% |
| فراه | مورفین | افغانی | 370,000 | 360,000 | -3% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 60% | افغانی | 498,099 | 502,145 | +1% |
| نیمروز | سپین پودر ( کرستال) - 40% | افغانی | 358,924 | 373,022 | +4% |
| نیمروز | بهترین پودر | افغانی | - | - | - |
| نیمروز | مورفین | افغانی | - | - | - |


## ۵. صنعتي نشه يي توکي

صنعتي نشه يي توکي چې له کېمياوي مادو څخه جوړيږي ډېر خطرناک نشه يي توکي دي چې مصرف يې د انسان روغتيا ته ډېر ضرر لري او استعمال  يې د انسان د روږدي کېدو سبب کېږي.
له بده مرغه په افغانستان کې د صنعتي نشه يي توکو مصرف کوونکي ځوانان دي ځکه چې د صنعتي نشه يي توکو موندنه اسانه او بيه يې لږ ده او دا نشه يي توکي په هر ځاي کې پيدا کېږي لکه د خرڅلاو مارکېټونو کې او همدرانګه په ځيني محفلونو کې پيدا کېږي.
صنعتي نشه يي توکي روږدي کېدو سبب کېږي او کېداي شي د انسان روغتيا ته زيان ورسوي او د انسان ورځني ژوند باندي بد اغيزکوی.مت امفيتامين، تابليت کا او سوسيګان په هيواد کې موندل کېږي او مت امفيتامين په څو نومونو سره خرڅيږي چې شيشه نوم يې مشهور ده.

## ۱۰ جدول: دیوه واحد صنعتي نشه يي توکو بيه په ډالرو

| سيمه | د صنعتی نشه یی توکو ډولونه | جون 2024 |
|---|---|---|
| مرکز | د یو ګرام بهرنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو ګرام وطنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 1.6 |
| | د یو بهرنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | 0.6 |
| | د یو وطنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 20.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایرانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 10.0 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 5.4 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطنی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 3.2 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایرانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| ختیځ | د یو ګرام بهرنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 2.0 |
| | د یو ګرام وطنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 1.3 |
| | د یو بهرنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو وطنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایرانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 1.7 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطنی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 1.1 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایرانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| شمال | د یو ګرام بهرنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 2.7 |
| | د یو ګرام وطنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو بهرنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | 0.8 |
| | د یو وطنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | 0.6 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 12.9 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایرانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 7.2 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 7.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطنی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 2.3 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایرانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| سویل | د یو ګرام بهرنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو ګرام وطنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 0.9 |
| | د یو بهرنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو وطنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 21.6 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایرانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 6.1 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطنی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایرانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| لویدیځ | د یو ګرام بهرنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو ګرام وطنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 1.6 |
| | د یو بهرنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | 4.0 |
| | د یو وطنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 14.3 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایرانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 5.1 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 9.3 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطنی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 5.3 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایرانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | 5.4 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | 4.8 |
| شمال ختیځ | د یو ګرام بهرنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 1.2 |
| | د یو ګرام وطنی شیشه بیه په امریکائی دالرو | 1.0 |
| | د یو بهرنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | 1.0 |
| | د یو وطنی سوسګان امپول بیه په امریکائی دالرو | 0.8 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (A) ( تاجیکی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 11.6 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (B) ( ایرانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 7.1 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (C) ( پاکستانی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 5.7 |
| | د یو دانه تابلیت-K ډول (D) ( وطنی تابلیتK) بیه په امریکائی دالرو | 5.7 |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (A) ( دوم ډول تاجیکی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (B) ( دوم ډول ایرانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |
| | د یو دانه B2 تابلیت ډول (C) ( دوم ډول پاکستانی تابلیت K ) بیه په امریکائی دالرو | - |

**۴ شکل: د ډول ډول صنعتي نشه يي توکو بيي په ډالرو ۲۰۲۴ کال جون مياشت**




## ۶. چرس

په افغانستان کې درې ډول چرس موندل کیږي ( ګرده ۱،۲،۳) چې ترتیب سره عالي، متوسط او ښه دي.
اول ډول چرس چې (شیرک) باندې مشهور دي د هیواد په بدخشان ولایت کې پیدا کیږي چې د سوچه والي له نظره لوړه بیه لري. او همدارنګه د نشه یي توکو سره د مبارزې معینیت د لابراتوار د معلوماتو له مخې په پنجشیر ولایت کې هم چرس لوړ کېفیت لري.
مخکې له دې د بلخ ولایت مشهور چرس چې (پتنوسي) په نوم یادیدل لوړه بیه یې درلوده مګر کله چې ورسره نور چرس ګډ شول نو ارزش یې له لاس ورکړ.


### ۱۱ جدول: د یو کیلو ګرام بنګو یې په افغانستان کې په ډالرو د ۲۰۲۴ کال د جون میاشتې

| ولایت | د بنګو د ګردو ډولونه | د بنګو ډولونه | جون_23 | جولای _23 | آګست _23 | سپتمبر_23 | اکتوبر_23 | نومبر_23 | دسمبر_23 | جنوری _24 | فبروری_24 | مارچ_24 | اپریل_24 | می_24 | جون_24 | دبیو توپیر (می-جون) % |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | ګرده -۱ | ګرده -۱ | 39 | 40 | 37 | 41 | 47 | 49 | 86 | 108 | 100 | 90 | 94 | 101 | 104 | +3% |
| ننګرهار | ګرده -۲ | ګرده -۲ | 34 | 36 | 33 | 36 | 39 | 42 | 64 | 79 | 72 | 65 | 68 | 69 | 72 | +5% |
| ننګرهار | ګرده -۳ | ګرده -۳ | 19 | 21 | 19 | 21 | 25 | 28 | 43 | 57 | 54 | 50 | 52 | 56 | 54 | -4% |
| فاریاب | ګرده -۱ (شیرک) | ګرده -۱ | 130 | 132 | 129 | 124 | 148 | 220 | 224 | 223 | 194 | 214 | 239 | 252 | 215 | -15% |
| فاریاب | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | ګرده -۲ | 106 | 111 | 103 | 103 | 121 | 176 | 188 | 195 | 166 | 185 | 204 | 208 | 186 | -11% |
| فاریاب | ګرده -۳ (خاکه) | ګرده -۳ | 71 | 77 | 73 | 64 | 81 | 147 | 159 | 167 | 138 | 143 | 162 | 150 | 135 | -10% |
| بلخ | ګرده -۱ (پتنوسی) | ګرده-۱ | 122 | 126 | 110 | 108 | 135 | 176 | 189 | 194 | 189 | 199 | 216 | 230 | 218 | -5% |
| بلخ | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | ګرده-۲ | 94 | 98 | 85 | 79 | 94 | 147 | 145 | 167 | 154 | 171 | 190 | 195 | 182 | -7% |
| بلخ | ګرده -۳ (خاکه) | ګرده -۳ | 59 | 61 | 49 | 41 | 54 | 117 | 116 | 139 | 140 | 142 | 157 | 172 | 163 | -5% |
| بغلان | ګرده -۱ (خاکي) | ګرده -۱ | 139 | 141 | 121 | 121 | 152 | 205 | 210 | 216 | 209 | 213 | 221 | 223.5 | 207 | -8% |
| بغلان | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | ګرده -۲ | 114 | 118 | 97 | 98 | 120 | 147 | 152 | 154 | 146 | 157 | 173 | 177 | 160 | -10% |
| بغلان | ګرده -۳ (خاکه) | ګرده -۳ | 85 | 87 | 73 | 68 | 90 | 117 | 116 | 119 | 111 | 121 | 132 | 134 | 125 | -7% |
| بدخشان | ګرده -۱ (شیرک) | ګرده -۱ | 80 | 85 | 176 | 189 | 187 | 208 | 217 | 217 | 210 | 213 | 218 | 207 | 213 | +3% |
| تخار | ګرده -۱ (شیرک) | ګرده -۱ | 88 | 94 | 183 | 195 | 194 | 217 | 235 | 232 | 217 | 221 | 225 | 238 | 244 | +3% |
| کندهار | ګرده -۱ (شیرک) | ګرده -۱ | 54 | 53 | 54 | 71 | 74 | 189 | 182 | 94 | 92 | 92 | 116 | 96 | 100 | +4% |
| کندهار | ګرده -۲ | ګرده -۲ | 27 | 27 | 30 | 46 | 48 | 149 | 143 | 52 | 49 | 48 | 52 | 44 | 48 | +9% |
| کندهار | ګرده -۳ | ګرده -۳ | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| هرات | ګرده -۱ (شیرک) | ګرده -۱ | 200 | 205 | 219 | 247 | 249 | 264 | 275 | 295 | 277 | 299 | 302 | 233 | 221 | -5% |
| هرات | ګرده -۲ (مورچه جوشی) | ګرده -۲ | 100 | 94 | 103 | 111 | 118 | 125 | 123 | 126 | 118 | 135 | 141 | 155 | 136 | -13% |
| پنجشیر | ګرده -۱ (پخته) | ګرده -۱ | 111 | 98 | 89 | 116 | 111 | 125 | 180 | 193 | 205 | 184 | 217 | 213 | 210 | -1% |
| پنجشیر | ګرده -۲ (خام) | ګرده -۲ | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |

### ۵ شکل: د یو کیلو ګرام (ګرده-۱ عالي) بنګو بیه په ډالرو د (۲۰۲۳ جون – ۲۰۲۴ جون) کلونو تر منځ



## ۶ شکل: په هیواد کې د یو کیلوګرام بیلا بیلو ډولونو بنګو یي په ډالرو د جون میاشت ۲۰۲۴ کال




۱۲ جدول: په هیواد کې د یو کیلو ګرام بیلابیلو ډولونو چرس یي په سیمیزو پولي واحدنو (می – جون ۲۰۲۴)

| ولایت | د بنک ډولونه | د پیسو واحد | د یو کیلوګرام مختلف ډوله چرس قیمت په محلی پیسو | | بدلون په % |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | می 2024 | جون 2024 | |
| ننګرهار | ګرده # 1 | روپه پاکستانی | 26,000 | 29,000 | +11% |
| | ګرده # 2 | روپه پاکستانی | 19,000 | 20,000 | +5% |
| | ګرده # 3 | روپه پاکستانی | 14,500 | 15,000 | +3% |
| فاریاب | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 17,000 | 15,000 | -10% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 14,500 | 13,000 | -9% |
| | ګرده ه # 3 (خاکه) | افغانی | 11,500 | 9,400 | -17% |
| بلخ | ګرده # 1 (پطنوسی) | افغانی | 15,400 | 15,200 | +1% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 13,500 | 12,700 | -4% |
| | ګرده # 3 (خاکه) | افغانی | 11,200 | 11,400 | +4% |
| بغلان | ګرده # 1 (چکی) | افغانی | 15,700 | 14,500 | -6% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 12,300 | 11,200 | -8% |
| | ګرده # 3 (خاکه) | افغانی | 9,400 | 8,800 | -5% |
| بدخشان | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 15,500 | 14,904 | -5% |
| تخار | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 16,000 | 17,094 | -5% |
| کندهار | ګرده # 1 (شیرک) | روپه پاکستانی | 32,222 | 27,778 | -14% |
| | ګرده # 2 | روپه پاکستانی | 14,444 | 13,333 | -8% |
| | ګرده # 3 | روپه پاکستانی | - | - | - |
| هرات | ګرده # 1 (شیرک) | افغانی | 21,500 | 15,500 | -27% |
| | ګرده # 2 (مورچه جوشی) | افغانی | 10,000 | 9,500 | -4% |
| پنجشیر | ګرده # 1 (خام) | افغانی | 15,400 | 14,650 | -4% |
| | ګرده # 2 (پخته) | افغانی | - | - | - |

## ۷. د چرسو او کوکنارو داني

د چرسو او کوکنارو د دانو بيي د هیواد له ۱۷ ولایتونو څخه راټولیږي چې په لاندي جدول کې منظم شوي دي.

### ۱۳ جدول: د چرسو او کوکنارو د دانو بيي په سیمیز د پیسو په واحدنو ( می - جون) کال ۲۰۲۴

| ولایت | د دانو ډولونه | د سیمییز پیسو واحد | د یو کیلو گرام د بنگو او کوکنارو د دانو بیی | | د بیو بدلون (می - جون) % |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | می 2024 | جون 2024 | |
| بدخشان | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 100 | 122 | +22% |
| | د بنگو دانه | افغانی | 58 | 60 | +3% |
| تخار | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 115 | 120 | +4% |
| | د بنگو دانه | افغانی | 90 | 85 | -6% |
| بلخ | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 80 | 70 | -13% |
| | د بنگو دانه | افغانی | 70 | 65 | -7% |
| بغلان | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 80 | 76 | -5% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 70 | 65 | -7% |
| فاریاب | د بنگو دانه | افغانی | 130 | 120 | -8% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 75 | 70 | -7% |
| هرات | د بنگو دانه | افغانی | 110 | 115 | +5% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 100 | 90 | -10% |
| فراه | د بنگو دانه | افغانی | 155 | 150 | -3% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 80 | 80 | 0% |
| هلمند | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 68 | 72 | +6% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 51 | 51 | 0% |
| کندهار | د بنگو دانه | افغانی | 74 | 75 | +2% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 57 | 56 | -2% |
| زابل | د بنگو دانه | افغانی | 79 | 80 | +2% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 59 | 58 | -2% |
| ارزگان | د بنگو دانه | افغانی | 68 | 69 | +2% |
| | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 65 | 56 | -15% |
| ننگرهار | د کوکنارو دانه (خشخاش) | پاکستاني کلداره | 275 | 290 | +5% |
| | د بنگو دانه | پاکستاني کلداره | 155 | 165 | +6% |
| کنر | د کوکنارو دانه (خشخاش) | پاکستاني کلداره | - | - | - |
| | د بنگو دانه | پاکستاني کلداره | - | - | - |
| لغمان | د کوکنارو دانه (خشخاش) | پاکستاني کلداره | 180 | 185 | +3% |
| | د بنگو دانه | پاکستاني کلداره | 120 | 125 | +4% |
| کابل | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 200 | 180 | -10% |
| غزنی | د بنگو دانه | افغانی | - | - | - |
| کاپیسا | د کوکنارو دانه (خشخاش) | افغانی | 180 | 190 | +6% |


### ۱۴ جدول: د یو کیلو گرام چرسو او کوکنارو دانو بیه په ډالرو ( جون ۲۰۲۳ تر جون ۲۰۲۴)

| د دانو ډولونه | جون_23 | جولای_23 | اگست_23 | سپتمبر_23 | اکتوبر_23 | نومبر_23 | دسمبر_ 23 | جنوری_ 24 | فبروری_ 24 | مارچ _ 24 | اپریل _ 24 | می _ 24 | جون _ 24 | زیاتوالی/کموالی (%) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د بنگو دانه | 0.832 | 0.882 | 0.923 | 0.929 | 0.924 | 0.933 | 1.105 | 1.016 | 0.980 | 1.105 | 1.054 | 0.920 | 0.890 | -3% |
| د کوکنارو دانه ( خشخاش) | 1.272 | 1.314 | 1.336 | 1.442 | 1.417 | 1.603 | 1.978 | 1.669 | 1.659 | 1.679 | 1.553 | 1.468 | 1.488 | +1% |

## ۸. د هیروینو، تریاکو او چرس يي د مصرف کوونکو په سطح

د هیروینو، تریاکو او بنګو یې د مصرف کوونکو په سطح د هیواد له بیلابیلو سیمو څخه راټول شوي دي چې د نشه يي توکو کیفیت د سیمو تر منځ توپیر کوي.

### ۷. شکل: د هیروینو، تریاکو او بنګو د بیو سیمیز اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو ۲۰۲۴ کال جون




### ۱۵ جدول: د هیروینو، تریاکو او چرسو د بیو اوسط د مصرف کوونکو په سطح په ډالرو ۲۰۲۴ کال جون

| د نشه يي توکو ډولونه | د يو کيلوګرام بيه په اوسط ډول په امريکائی ډالرو | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | جون_23 | جولای _23 | اګست _23 | سپتمبر_23 | اکتوبر_23 | نومبر _23 | دسمبر_ 23 | جنوری_ 24 | فبروری_ 24 | مارچ_24 | اپریل_24 | می_ 24 | جون_24 | دقیمت بدلون (می - جون) % |
| هیروئین | 3,520 | 3611 | 3,782 | 4413 | 4463 | 5,605 | 7997 | 7,150 | 7,398 | 7427 | 7500 | 7500 | 7398 | -1% |
| تریاک | 355 | 383 | 413 | 456 | 496 | 592 | 1502 | 850 | 812 | 867 | 896 | 885 | 871 | -2% |
| چرس | 145 | 141 | 136 | 148 | 165 | 216 | 264 | 214 | 214 | 210 | 226 | 224 | 217 | -3% |

## ۹. د اسيتک انهايدرايد(تيزابونو) بيه

### ۱۶ جدول: په افغانستان کې د يو ليټر استيک انهايداريد بيه په ډالرو ۲۰۲۳ تر ۲۰۲۴ جون مياشتو تر منځ

| د استیک انهایدراید(تیزابونو) ډولونه | جون_23 | جولای_23 | آګست_23 | سپتمبر_23 | اکتوبر_23 | نومبر_23 | دسمبر_23 | جنوری_24 | فبروری_24 | مارچ_24 | اپریل_24 | می_24 | جون_24 | زیاتوالی/کموالی ( % ) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| استیک انهایدراید - A* (جرمنی) | 139 | 140 | 159 | 160 | 178 | 191 | 182 | 243 | 232 | 245 | 255 | 223 | 204 | -9% |
| استیک انهایدراید - B* (جاپانی) | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - | - |
| استیک انهایدراید - C* (هندی) | 59 | 59 | 58 | 66 | 72 | 91 | 143 | 122 | 119 | 126 | 133 | 145 | 155 | +7% |
| استیک انهایدراید - D* (پاکستانی) | 54 | 56 | 55 | 57 | 61 | 88 | 136 | 104 | 90 | 72 | 77 | 80.3 | 85.5 | +6% |
| استیک انهایدراید - E* (چینائی) | 138 | 143 | 169 | 168 | 179 | 182 | 203 | 203 | 193 | 199 | 206 | 204 | 198 | -3% |
| استیک انهایدراید - F* (ایرانی) | 80 | 77 | 81 | 85 | 92 | 108 | 116 | 131 | 134 | 103 | 105 | 109 | 103 | -6% |

## ۱۰. د اومان بيه

Ephedra (اومان) يو ټيټ تل زرغون بوټی دي ، د کوچنيو ټوټو پاڼو سره. دا په چين او هند هيواد کې د زکام، تبه ، سر درد، ټوخې او نورو درملنو لپاره د درملو اوږد تاريخ لری. افيډرا ډيری ډولونه کېمياوی افدرين لری. دا په متحده ايالاتو کې منع دي.

**په کومو هيوادونو کې پيدا کېږی؟**
سويلی اروپا، شمالی افريقا څخه تر آسيا پوری او همدارنګه د شمالی سويلی امريکا په غرونو کې موندل کېږی، افيدرا (اومان) معمولا د وچو او صحرايي سيمو نباتات دي.

اومان په طبيعي ډول د افغانستان په بيلا بيلو زونونو کې هم موندل کېږی او د مت امفيتامين (شيشې) په توليد کې کارول کېږی.
د ۲۰۲۳ کال سپتمبر مياشتې څخه، د مخدره توکو سره د مبارزی معينيت د اومان نرخ هم د مخدره توکو مياشتنی نرخ په راپور کې شامل کړو.

### ۱۷ جدول: په افغانستان کې د اومان د يوکيلو ګرام اوسط بيه په امريکايي ډالرو د ۲۰۲۴ می څخه تر ۲۰۲۴ جون پوری

| ديو کيلو ګرام د "اومان" اوسط قيمتونه د زون په سطح په امريکايي ډالرو | | | |
|---|---|---|---|
| سيمه | می_24 | جون_24 | د بيو توپير په سلنه |
| شمال | 0.78 | 0.72 | -7% |
| شمال ختيځ | 0.92 | 0.76 | -18% |
| لويديځ | 1.03 | 1.06 | +4% |
| مرکز | 0.77 | 0.74 | -5% |
| سويل | 1.05 | 1.05 | -0.2% |
| ختيځ | 1.13 | 1.08 | -4% |
| **د افغانستان په سطح اوسط نرخونه** | **0.91** | **0.868** | **-4.8%** |

## ۱۱. مشروع محصولات

مشروع نباتات لکه ( غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطنی وريجي ) بيي چې د هيواد له ۷ ولايتونو څخه را ټول شوي دي په لاندي جدول کې ليدي شي.

### ۱۸ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطنی وريجي بيي په افغانستان کې په محلی پيسو ۲۰۲۴ کال جون مياشت

| ولايت | د نباتاتو ډول | ديو کيلوګرام قيمت په پاکستانی کلدارو | ديو کيلوګرام قيمت په افغانيو | ديو کيلوګرام قيمت په امريکائی ډالرو |
|---|---|---|---|---|
| ننګرهار | غنم | - | 23 | 0.3 |
| ننګرهار | پنبه | - | 108 | 1.5 |
| ننګرهار | خاريجی وريجی | - | 114 | 1.6 |
| ننګرهار | وطنی وريجی | - | 48 | 0.7 |
| بلخ | غنم | - | 17 | 0.2 |
| بلخ | پنبه | - | 90 | 1.3 |
| بلخ | خاريجی وريجی | - | 100 | 1.4 |
| بلخ | وطنی وريجی | - | 55 | 0.8 |
| بدخشان | غنم | - | 23 | 0.3 |
| بدخشان | خاريجی وريجی | - | 100 | 1.4 |
| بدخشان | وطنی وريجی | - | 100 | 0.9 |
| تخار | غنم | - | 60 | 0.3 |
| تخار | خاريجی وريجی | - | 115 | 1.6 |
| تخار | وطنی وريجی | - | 62 | 0.9 |
| هلمند | غنم | - | 21 | 0.3 |
| هلمند | پنبه | - | 126 | 1.8 |
| هلمند | خاريجی وريجی | - | 77 | 1.1 |
| کندهار | غنم | - | 22 | 0.3 |
| کندهار | پنبه | - | 131 | 1.9 |
| کندهار | خاريجی وريجی | - | 76 | 1.1 |
| هرات | غنم | - | 17 | 0.2 |
| هرات | پنبه | - | 170 | 2.4 |
| هرات | زعفران | - | 116000 | 1655 |
| هرات | خاريجی وريجی | - | 85 | 1.2 |
| هرات | وطنی وريجی | - | 50 | 0.7 |

### ۱۹ جدول: د غنم، پنبه، زعفران، بهرنی وريجي، وطنی وريجي د بيو اوسط په افغانستان کې په ډالرو۲۰۲۴ کال جون مياشت

| د مشروع نباتاتو ډولونه | جون _23 | جولای _23 | آګست _23 | سپتمبر_23 | اکتوبر _23 | نومبر _23 | دسمبر- 23 | جنوری - 24 | فبروری - 24 | مارچ - 24 | اپریل - 24 | می _24 | جون _24 | زياتوالی/کموالی (٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غنم | 0.33 | 0.36 | 0.36 | 0.40 | 0.41 | 0.41 | 0.40 | 0.43 | 0.46 | 0.38 | 0.33 | 0.31 | 0.29 | -8% |
| پنبه | 2.14 | 1.97 | 1.97 | 2.07 | 2.13 | 2.07 | 1.90 | 1.93 | 1.88 | 1.94 | 1.84 | 1.77 | 1.79 | +1% |
| زعفران | 846 | 852 | 852 | 911 | 969 | 1100 | 1014 | 982 | 1108 | 1736 | 1714 | 1668 | 1655 | -1% |
| خاريجی وريجی | 1.37 | 1.42 | 1.42 | 1.51 | 1.50 | 1.56 | 1.51 | 1.64 | 1.53 | 1.55 | 1.46 | 1.42 | 1.36 | -4% |
| وطنی وريجی | 0.80 | 0.81 | 0.81 | 0.84 | 0.82 | 0.88 | 0.95 | 0.98 | 1.10 | 0.96 | 0.87 | 0.85 | 0.79 | -8% |

## ۱۲. د رواني مياشتې د نرخونو د لوړېدو او ټيټېدو لاملونه

### د ټولو مخدره توکو د لوړېدو لاملونه:

- د ترياکو او چرسو د کښت، دنشه يي توکو د توليد، استعمال او قاچاق د منع په اړه د اميرالمومنين حفظه الله د فرمان تطبيق.
- د مخدره توکو د فعاليتونو د ډولونو لپاره د ځانګړو جزا د ټاکلو په اړه دمتحد المال نمبر (۱۳) او (۳۲) مادې تصويب او خپرول.
- د کوکنارو د کښت او د مخدره موادو د پروسس د فابريکو ويجاړول.
- د کوکنارو او چرسو د کښت د مخنيوي او د هغه د کروندو له منځه وړلو په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو قاطع اراده.
- د مخدره توکو د ذخيره کولو بازارونو ترتيب ګډوډ کول او د مخدره توکو ذخيره کمول.
- د مخدره توکو کارولو لپاره د محلي، سيمه ايزو او نړيوالو غوښتنو شتون.
- د نشه يي توکو د قاچاق وړونکو تعقيبول.

### د نشه يي توکو د هرې برخې د لوړېدو او ټيټېدو لاملونه

**لومړۍ برخه ترياک:**

**د افغانستان په کچه د ترياکو په بيه کې بدلون:** د تيرې مياشتې په پرتله د افغانستان په کچه د وچو ترياکو اوسط بيه ۱٪ او د تازه ترياکو اوسط بيه د پتې په سر او سوداګرو په کچه په ترتيب سره ۴٪ او ۶٪ راټيټه شوې ده. د ترياکو د راټيټېدو اصلي لامل د ترياکو د حاصل فصل دی.

**د زونونو په کچه د ترياکو په بيه کې بدلون:**

- په **لوېديځ زون** کې د ترياکو بيه د تيرې مياشتې په پرتله د دوو لاملونه له امله راټيټه شوې ده؛ د کوکنارو د حاصل فصل او د ترياکو د نا خالص والی په ځانګړې توګه په نيمروز ولايت کې؛ په جدول (۳) کې لږ زياتوالی د افغانيو په مقابل کې د امريکايي ډالرو د بيې د راټيټېدو له امله دی .
- په **شمال ختيځ زون** کې د کوکنارو د حاصلاتو د فصل په رارسيدو سره د تيرې مياشتې په پرتله د ترياکو بيه راټيټه شوې ده.
- په **ختيځ زون** کې د تيرې مياشتې په پرتله د ترياکو په بيه کې ۱٪ زياتوالی راغلی، چې لامل يې د ترياکو د عرضې کموالی دی.
- په **شمال زون** کې د ترياکو بيه د تيرې مياشتې په پرتله را ټيټه شوی چې لامل يې د کوکنارو د حاصلاتو د فصل رارسيدل دی.
- په **مرکز زون** کې د ترياکو بيه د تېرې مياشتې په پرتله راټيټه شوی ، چې لامل يې په نورو زونونو کې د کوکنارو د حاصلاتو د فصل رارسيدل دی.
- په **سويل زون** کې د ترياکو بيه د تېرې مياشتې په پرتله لوړه شوې؛ چې يوازينی لامل يې په پاکستان کې د عرضې او تقاضا بدلون دی.

**دوهمه برخه هيروين**: دا چې هيروين له ترياکو څخه جوړيږي، نو د افغانستان په کچه د ترياکو په اوسط نرخ کې عمومی کموالی د هيروينو د بيې د کمښت لا امله دی. خو د ساحوی معلوماتو له مخې، په هيروينو کې يو بل ډول ماده (د هيروينو دوا په نوم) اضافه کېږی چې لامله يې د هيروينو بيه د تيری مياشتی په پرتله ټيټه کړی.

**دريمه برخه چرس:** د هيواد په ډيرو برخو کې د چرس د بيې د راټيټدو لامل کيدای شي د ښارونو په کچه دهغې د غوښتونکو (په نشه يي توکو د روږدو کسانو) د شمير کموالی وی، ځکه چې د نشه يي توکو ديری کاروونکي چرس کاروی. بل لامل يې ښايي د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د ځواکونو له خوا د هغې د پير او پلور مخه نيول وی.

**څلورمه برخه صنعتي نشه يي توکي:** زموږ د تحليل له مخې، صنعتي مخدره توکي تر ډيره د معتادينو لخوا کارول کېږي ؛ نو په همدی اساس ويلای شو چې، د صنعتي مخدره توکو د بيو ټيټوالی د روږدو کسانو د راټولولو له امله دی، ځکه چې اصلي غوښتونکي د ښارونو په کچه کم شوي دي. د ځينو صنعتي درملو، لکه تاجکي ټابليټ k د بيو لوړوالی لامل د افغانستان د اسلامی امارت د فعالو ځواکونو او چارواکو له خوا د پلور او د ښه سرحدي کنټرول په پايله کې هيواد ته د ياد شوی درملو د داخليدو مخنيوی دی.

## ۱۳. يادښتونه، ستونزې او وړانديزونه

**اساس:** دغه تحليلي راپور په هغو ولايتونو کې چې کوکنار، چرس او زعفران په کې کرل کېږي، د مخدره موادو د مياشتني نرخ پر اساس جوړ شوی دی. په دې راپور کې د زعفرانو سرېره غنم، پنبه، وارداتي وريجې او کورني وريجې هم شاملې دي.

**د موضوع شرح:**

- ټولو ته څرګنده ده چې زموږ په هېواد کې له ډېرو کلونو راهيسې د کوکنارو او چرسو کښت او توليد او د بېلابېلو نشه يي توکو کارول ډېر شتون درلود او شاوخوا څلور ميليونه هېوادوال چې ځوانان، ماشومان، نارينه او ښځې پکې شامل دي په هر ډول نشه يي توکو روږدي وو، خو له نيکه مرغه د افغانستان اسلامي امارت له برياليتوب وروسته په هيواد کې د کوکنارو کښت، د ترياکو توليد، د چرسو کښت او د بيلابيلو نشه يي توکو په استعمال کې د پام وړ کموالی راغلی دي.

- سږ کال په هيواد کې د کوکنارو او چرسو د کروندو له منځه وړل په جدي توګه روان دي او په دې برخه کې د نشه يی توکو پر وړاندې د مبارزې معينيت پوليس ښې پايلې لرې. د مخدره توکو سره د مبارزې د سروې او تحليل رياست د کوکنارو د کښت او توليد د ارقامو، د مخدره موادو د لابراتوارونو موقعيت، د مخدره موادو قاچاق او نورو سروې ګانو د ترلاسه کولو لپاره مختلفې سروې ترسره کوی.
- دا سروې چې پرله پسې له ۲۱ کلونو راهيسي ترسره کېږی، د نشه يی توکو د ټولو ډولونو د بيو د څارنې سروې ده، د دې سروې تحليلي راپور هره مياشت د افغانستان په کچه، ترتيب او پايلې په رسمي توګه باصلاحيته چارواکو ته وړاندې کېږي.

- طبيعي خبره ده چې له نشه يي توکو سره د هر اړخيزې مبارزې په اړه د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د فرمان له صادرېدو وروسته په افغانستان کې د کوکنارو او چرسو کښت کې د پام وړ کموالي راغلي دي.

- له بلې خوا د توليد کموالی د ترياکو او چرسو د عرضې د کميدو لامل شوی دی. اقتصادي نظريات ښيي چې د محصول په عرضه کې کمښت، که تقاضا ثابته وي، د محصول په بيه کې د پام وړ زياتوالی لامل کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اسلامي امارت د عالي مقام د فرمان له صادرېدو وروسته د ترياکو، چرسو او هر ډول صنعتي نشه يي توکو (ټابليټ کا، شيشه اوسوسيګان) لوړې شوې دي. د نرخونو زياتوالی به تر هغه وخته پورې وي ترڅو چې په افغانستان کې د کوکنارو او چرسو کښت او توليد کم وی.

**ستونزې او مشکلات:**

**وړانديزونه:**


## ۱۴. ميتودلوژي/ کړنلاره

- بيي د هري مياشتي په وروستي اووني کې له ۲۰ کسه بزګرانو او په همدي شمير تجارانو څخه د نشه يي توکو د سروې او تحليل رياست د مسلکي کارمندانو له خوا راټوليږي.
- د ترياکو بيه د افغانستان د ۳۴ ولايتونو له جملې څخه يواځې له ۲۵ ولايتونو لکه بدخشان، بغلان، بادغيس، بلخ، فراه، فارياب، غور، هلمند، هرات، کندهار، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، نيمروز، ارزګان، تخار، سرپل، سمنګان، جوزجان او زابل د پټي په سر او تجارانو څخه راټوليږي.
- د هيروينو او مورفينو بيه د هيواد له ۱۲ ولايتونو لکه: بدخشان، تخار، کندز، بلخ، فارياب، بادغيس، هلمند، کندهار، ننګرهار، هرات، نيمروز او فراه څخه راټوليږي او د بنګو بيي بيا د هيواد له ۸ ولايتونولکه بدخشان، بلخ، هرات، ننګرهار، کندهار او تخارڅخه راټوليږي. او همدارنګه د بنګو (پطنوسی) ګرده  په بلخ ولايت کې يو نوي ګرده ده چې په ۲۰۲۱ جنوري مياشت کې يي راپور راغلې دي.
- د مشروع نباتاتو بيي لکه غنم، زعفران، پنبه، وارداتي او وطني وريجې د هيواد له اوولايتونو څخه راټوليږي او په دي راپور کې نشر کېږي.
- د کوکنارو او بنګو د دانو او همدارنګه د استيک انهايدرايد د ډولونو بيي په دي راپور کې شاملې دي.
- د نشه يي توکو بيي په سيميز او محلي پيسو باندي هم تحليل او څيړل شوي دي يواځې په لوديځ زون کې  بيي په دوو د پيسو په ډولونو باندي محاسبه شوي او په دي راپور کې نشر شوي دي. بيي له بيلابيلو سيميو څخه راټولې شوي دي چې د پيسو واحد يې هم توپير کوي لکه په ختيځ کې ( کنړ،لغمان،ننګرهار) او سويل کې لکه ( کندهار،هلمند، ارزګان، او زابل) په پاکستاني کلدارو راپور راټول شوي دي، همدرانګه په شمال او شمالشرق زونونو کې په افغاني راپور راټول شوي دي، لوديځ زون کې بيي په دوه ډوله دي هلته په افغاني او ايراني تومن باندي راپور راټول شوي ده.  همدرانګه د پيسو تبديل په امريکايي ډالرو باندي له مشهور سايت ( او اين ډا . کام) څخه ګټه اخستيل شوي ده.
- د صنعتي نشه يي توکو لکه ( مت امفيتامين، سوسيګان، تابليت کا) د هيواد په شپږو زونونو کې په ډالرو راټول شوي دي چې لاندي ولايتونه پکې شامل دي. کابل، ننګرهار، لغمان، کنړ، فارياب، جوزجان، سرپل، بلخ، سمنګان، بغلان، هلمند، کندهار، زابل، بادغيس، هرات، غور، فراه، نيمروز، بدخشان، تخار، او کندز.
- مت امفيتامن په هيواد کې په څو نومونو سره ياديږي چې مشهور يې شيشه ده.
- د نشه يي توکو سره د مبارزی د سروې او تحليل رياست د مخدره توکو د بيي سروې په ليست کې د ايفيډرا (اومان) بوټې قيمت سروې هم شامله کړې ده.

### ۲۰ جدول: د وچ او تازه ترياکو د بيو اخيستلو څخه ليدنې شمير

| د ترياکو ډولونه | د نظارت او ليدنې شمير | | د هغه ولايتونو شمير چې نرخونه ترې راټول شوی دي |
|---|---|---|---|
| | د پټي د سر بيه | د تجارانو له خوا بيه | |
| وچ ترياک | ۱۷۴ | ۱۷۱ | ۲۵ |
| تازه ترياک | ۱۲۳ | ۱۲۰ | ۲۲ |

# په هیواد کي د ترياکو بيي ددهقان او تجارپه سطح د جون مياشت 2024 کال



# د افغانستان اسلامي امارت
# د کورنيو چارو وزارت
# د نشه يي توکو پر وړاندې دمبارزې معينيت
# ملکي معاونيت
# د نشه يي توکو د سروې او تحليل  رياست





